د۱۳۸۱ لمریز دغبرګولي ۱۶

# د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون

## مطبوعاتي خبرتیا
## په هیواد کې د آزادۍ د سلب ځایونو وضعیت د اندیښنې وړ دی

کابل،د ۱۳۸۹کال د جوزا ۱۶مه

په تیرو څو کلنو کې د آزادۍ په سلب ځایونو کې نسبي ښه والی لیدل شوی دی. خو بیا هم دغه ځایونه له جدي ستونزو سره مخ دي.

دامهال د آزادی د سلب ځایونو نه رغاول د زندانونو او توقیف ځایونو د لوی ریاست د بودجې دکمښت، په یاو شویو ځایونو کې له حده ډیره ګڼه ګوڼه، دملګرو ملتونو په معیار دبرابرو ودانیو سلبوالی دیادو شویو سیمو د لویو ستونزو څخه شمیرل کېږي.

د افغانستان حکومت ددغې انګېرنې له مخې چې ګواکې دلته ناسم خلك ساتل کېږي، باید هلته سزا وګوري نو ځکه ددې کسانو سره د تبعیض له مخي چلند کوي. چې له امله یې د زندانونو او توقیف ځایونو د بیا جوړولو، کنترول او تنظیم په چارو کې په بي پروایې او ټنبلي سره اجراآت کړي دي. دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسیون هیڅکله دمجرمانو ملاتړ نه کوي خو کمیسیون دهغوی د عادلانه محکمې او له هغوی سره د انساني کرامت د درناوي پربنسټ د چلند ملاتړ کوي.

دافغانستان د بشري حقونودخپلواك کمېسیون مشرې ډاکټر سیما ثمر نن وویل(( زندانونه د مجرمانو داصلاح او روزنې ځایونه دي په کارده چې د زندانونو دژوند وضعیت او اداري نظم او ترتیب یې باید داسې وي چې دغه موخې تر لاسه شي. خو له بده مرغه په ډیرو محبسونو کې وضعه په دې ډوله ده چې پورته موخه ( دمجرمانو روزل او اصلاح کول) نه تعقیبېږي.)) دزندانونواو توقیف ځایونو دقانون له مخي د بندي کېدو د حکم پلي کول د بندي شویو کسانو د اصلاح او قوانیونو ته د درناوي په منظور ترسره کېږي.

دافغانستان د بشري حقونو د خپلواك کمېسیون د هیواد د اساسي قانون او د خپلو دندو او تشکیل د قانون پر بنسټ واك لري چې د آزادۍ د سلبیدو له مرکزونو څارنه کوي او لاس ته راغلي مالومات یې اړوندو ارګانونو او رسنیو سره شریك کړي دي. دا دی کمېسیون په هیواد کې د آزدۍ د سلب ځایونو په اړه خپل لومړنی رپوټ خپروي.

ددې رپوټ د موندنو لنډيز په لاندې متن کې ولولی.

ددغه رپوټ مهمې موندنې دا دي :

- په ۱۳۸۸لمريز کال کې زندانونه او توقيف ځايونه د بودجې په برخه کې له جدي ستونزو سره مخ وو. دافغانستان دولت تقريبا د غوښتل شوې بودجې نيمايې برخه د زندانونو او توقيف ځايونو عمومي رياست ته ځانګړې کړې ده. ياد شوي رياست دماليې د وزارت څخه د ۱۲۹۷۸۳۰۰۰افغانۍ غوښتې وي په داسې حال کې چې پورته رياست ته يوازې ٦۹۹۷۹۸۰۰۰ افغانۍ ځانګړي کړي شوي وي. د بودجې د کمښت له امله د هيواد ډېر ولايتونه د زندانونو او توقيف ځايونو له پاره ځانګړي ودانۍ نه لري له همدې امله تورن کسان او زندانيان په ډېرى سيمو کې په کرايې باندې نيول شويو او يا هم نورو دولتي ودانيو کې ساتل کېږي.
- د تيرو څو کلنو په اوږدو کې يوازې اوه زندانونه او توقيف ځايونه( دکابل، د جوزجان اوهرات ښځينه زندانونه، د لغمان ولايت زندان په خوست، هلمند او پکتيا کې د نشه يې توکو زندان) نوي جوړ شوي دي او يوازې دڅو نور زندانونه د بيا رغاونې پروژې تر کار لاندې دي.
- ډيرى زندانونه او توقيف ځايونه د ځاى د کمښت او ګڼې ګوڼې سره مخ دي. د ځاى کمښت ددې لامل شوى چې زندانيان د جرمونو د ډولونو له مخې سره ونه ويشل شي. چې له امله يې د بلخ، دايکندي، بادغيس، پکتيا، کندهار، کندز، غور او بدخشان په زندانونو کې زندانيان په ډيرو ناروغيو اخته دي دوى په يوه کوټه کې اچول شوي چې د قرنطين له پاره يې هيڅ ډول تدابير په پام کې نه دي نيول شوي.
- په زندانونو کې د ځاى کمښت په مستقيمه توګه د کوټو په ګڼې ګوڼې اغيزکوي. د کمېسيون د ولايتي او سيمه ييزو دفترونو د رپوټونو له مخې، دغه ګڼه ګوڼه دهغه معيار له مخې چې زندانونو ته ټاکل شوې ده په ځينو برخو کې څلور چنده ته رسيږي. د بېلګې په توګه د فارياب ولايت د زندانونو کوټې( 3X2) متره او ياهم (4X3) متره دي چې په (2X3) کوټه کې ۱۰ تنه ساتل کېږي.
- ډيرى زندانونه د روغتيايې خدمتونو اسانتياوې نه لري. او په دې ډول د درمل، ډاکټر او روغتيايې سامانونو او تجهيزاتو له کمښت سره مخ دي.
- د څښاك پاکو اوبو او پاك ساتلو ته نه لاسرسى د توقيف ځايونو يوه بله ستونزه ده چې ورته پام نه دى شوى. په ډيرى زندانونو کې د تشنابونو او حمامونو سلبوالى ليدل کېږي د بېلګې په توګه د نيمروز په زندان کې يو حمام د ۸۰ څخه تر۱۰۰کسانو له پاره جوړ شوى دى.
- په دې رپوټ کې په کوټو کې د لمر د روښنايې سلبوالى د تودوخې او سړښت له پاره داسانتياوو سلبوالى هم ياد شوي دي.
- هر زنداني ته د ورځني لګښت له پاره ۷۵ افغانۍ په پام کې نيول شوي دي. خو د خوړو له پلوه ډير کم شکايت اوريدل کېږي. خو په ځينو برخو کې دخوړو د ټيټ کيفيت له امله شکايتونو شتون درلود.
- آزادې هوا کې د ګرځيدو اسانتيا له استثنا پرته په ټولو زندانونو کې موجوده وه. ياني ټولو زندانيانو کولاى شواى د ورځي له مخې په آزاده توګه د زندان په انګړ کې وګرځي. خو د ورزش په برخه کې ځينو زندانونو د وسايلو کمښت درلود يوازې د ننګرهار ولايت په زندان کې د ورزش سامان موجود وو.
- که څه په دې ورستيو وختونو کې په زندانونو کې پر زندانيانو باندې د شکنجې او بد چلند کچه راټيټه شوې ده. خو بيا هم په ځينو ځارنځايونو او د آزادۍ د سلب په مرکزونو کې شکنجې او بد چلند شتون درلود. کمېسيون د سيمه ييزې ځارنې

ځانګې په وينا په ۱۳۸۸کال کې يې د شکنجې ۲۶ پېښې په خپلو رپوټونو کې ثبت کړي دي. په غالب ګمان د شکنجې ورکولو د علتونو مالومول ستونزمن دي. د څېړنې په وخت کې تورن کس ته ددې له پاره شکنجه ورکول کېږي چې له تورن نه اعتراف واخيستل شي.

- دکمېسيون د ځانګو رپوټونه ددې ښودنه کوي چې په ځينو توقيف ځايونو کې د زندانيانو د تيښتې د مخنيوي له پاره هغوی ته ولچکې اوزولنې اچول کېږي. رپوټونه وايې چې د غور، دايکندي، هرات، غزني،باميان، بدخشان، کندز، فارياب، جوزجان، اوبلخ په ولايتونو کې د ولچك او زولنې څخه د بي نظمۍ او تيښتې د مخنيوي له پاره کار اخيستل کېږي.

## غوښتني: (وړانديزونه):

1. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د حکومت او ملي شورا څخه غوښتونکي دي چې د پورته اداري کلنۍ بودجه د هيواد نافذه قوانينو د غوښتونو او دبشري حقونو نړيوالو سندونو له مخي داسي ترتيب کړي چې وکولاي شي د آزادي سلب ځايونو ستونزي ور حل کړي.

2. کميسيون د نړيوالي ټولني څخه غوښتنه کوي چې د عدليې وزارت سره مرستي وکړي ترڅو هغوي وکولاي شي محبسونه او توقيف ځايونه جوړ او ياهم بيرته ورغوي.

3. کميسيون د محبسونو د عالي شورا څخه هيله لري چې د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون سره سمه فعاله شي او د خپل واک څخه قانوني ګتي ترلاسه کړي او په دې ډول د بنديانو وضعه سمه شي او دهغوي دشکايتونو کچه راټيټه کړای شي.

4. کميسيون د عدليې وزارت ته وړانديز کوي چې د محبسونو او توقيف ځايونو د جوړولو دپاره هڅي وکړي او د محبسونو او توقيف ځايونو د بيا رغولو او جوړولو له پاره ځانګړي پروګرام ترتيب کړي.

5. کميسيون د عدليې وزارت څخه غواړي چې د ښځو د محبسونو او توقيف ځايونو جوړولو او بيا رغوني ته پاملرنه وکړي.

6. کميسيون د عدليې وزارت څخه غواړي ترڅو د تورنو او محکوم شويو کسانو په وړاندې د بد چلند او ناوړه کړنو مخه ونيسي.

7. کميسيون د عدليې وزارت ته وړانديز کوي چې د محبسونو او توقيف ځايونو د کارمندانو د ښوونې او زده کړي په برخه کي نوري هڅي هم وکړي او کميسيون تيار دي چې په دې برخه کي دهغوي سره مرسته وکړي.

8. کميسيون د عدليې او روغتيا وزارتونو څخه هيله لري چې د آزادي سلب سيمو د روغتيائي خدمتونو وضعيت ته جدي پاملرنه وکړي او هغه فعاله کړي.

9. کمیسیون د عدلیې او ښوونې او روزنې د وزارتونو څخه هیله کوي چې د زده کړي منظم پروګرامونه (د لیک، لوست او مسلکې زده کړي) د بندیانو دپاره جوړ او ترتیب کړي.

10. کمیسیون د عدلیې وزارت څخه هیله کوې چې د محبسونو د څارونکو، ظرفیت جوړونه او دهغوي ژوند ته ډیره پاملرنه وکړي.

د نورو مالوماتو له پاره له دغې شمیرو سره اړیکه ونیسئ.
۰۲۰۲۵۰۰٦۷٦ او یاهم ۰۷۹۹٤۰۳۳۲۳

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون
مرکزي دفتر
کابل